# ولي خان يو متحرک رهنما

# يو لړزونکے ليکوال

رحمت شاه سائل

د ولي خان سره چونکې زۀ اتلس يا شل کاله په يو ستېج پاتې شوے يم او د دې صوبې د ډېرو علاقو دورې مې ورسره کړې دي. د هغۀ مينه شفقت او ادبي ذوق مې د نزدې نه ليدلے او مطالعه کړے دے. د هغۀ د سياسي بصيرت مطالعه مې کړې ده. ما وې زۀ به دغه ياداشتونه په مختصر ډول کاغذ ته وسپارم خو يو خو ماته ضروري خبرې په زور رامختصر کول ډېر ګران ښکاري او بل مې د ولي خان د انداز بيان او انداز تکلم نه فکر د هغۀ ليک طرف ته لاړو، نو ضروري مې وګڼل چې د هغۀ د ليک په انفراديت او د هغې په مقاصدو د خپلو ماتو ګوډو خيالاتو اظهار وکړم. د پېرنګي د کنګل شوې غلامۍ په زمانه کښې د لوئے باچا خان فخر افغان تحريک د پښتنو د راتلونکو نسلونو د مستقبل دپاره يوه داسې بختوره لمحه وه چې زمانه څۀ چې زمانې ئې په خپل ګرفت کښې واخستې. د رښتياؤ د ازادۍ دغه تحريک چې کوم عظيم ليکونکي او تخليق کاران پېدا کړل هغه په خپل خپل ځائے ځان له ځان له لوئے لوئے داستانونه دي او بې شکه چې اثرات به ئې په ټولو راتلونکو زمانو خوارۀ وي. هر ليکونکے ئې په خپل انداز کښې منفرد دے او دا ځکه چې هغه ټول تخليق کاران په عمل کښې په مېدان ولاړ هم ؤ.



د ولي خان په ليکونو کښې ما دا خبره لوستې ده چې وائي "د لفظ نه عمل زيات خبرلوځ دے".

د دې نه هم معلومېږي چې ولي خان د ګفتار سره سره د سړي عمل او شخصيت هم جمع کول ضروري ګڼي. د ذکر شوو ټولو عظيمو ليکوالو د رنګارنګ انفراديتونو د موجودګۍ باوجود د ولي خان د ليک انداز کۀ هر څو د ماسټر کريم په رنګ کښې رنګ ښکاري چې د هغوي دواړو د يارۍ دوستۍ نه علاوه د استاذۍ شاګردۍ يوه رشته هم

وه، بيا هم د ولي خان د ليک ځانګړتيا د تسليمولو ده.

د ولي خان په تقرير او تحرير دواړو کښې په خپل خپل ځائے د روزمرې، محاورې، ټپې او متل استعمال هغۀ داسې د خپلو ټولو معنوي خوبيو سره او داسې په ساده انداز کښې کړے دے چې مونږ ئې نۀ يواځې د ژبې د ډېرې غنې پنګې سره پېژندګلو کړې يو بلکې د ژبې د صحيح استعمال د زور، قوت او توان سره ئې هم اشنا کړې يو او دا هر څۀ کۀ هر څو مونږ د خپلو ټولو ليکونکو په ليکونو کښې محسوس کوے شو خو کۀ څوک د ولي خان ليکونه وګوري نو هلته به ئې نور هم په بل ډول محسوس کړي. ولې کاش چې مونږ ټول عمر دا ګيلې کړې دي چې پښتو ژبه لوستونکے نۀ لري او دا ځکه چې پښتو نۀ د سکول کالج يونيورسټۍ او دفتر ژبه شوه او نۀ ورته سرکاري سرپرستي حاصله شوه. په نورو ټکو کښې دا ژبه چا له ډوډۍ نۀ ورکوي او ځکه لوستونکے نۀ لري.

ولي خان د احمد کاکا د "خدائي خدمتګار تحريک" د دوېم ټوک په سريزه کښې وائي چې دا خو ماته د خپل کتاب په سلسله کښې هم معلومه شوه چې مونږ پښتانۀ خو هسې هم د ليکلو لوستلو ډېر شوق نۀ لرو ولې د پښتو ژبې په کتاب خو پېسه لګول دوي ته څۀ بې ځايه تاوان ښکاري!

ولي خان مخکښې ليکي چې "نو په دا شان د احمد د کتاب کتابت او پروف لوستل او چاپ کول هر څۀ زما په غاړه شول. زۀ د خپل کتاب د دوېم او درېم ټوک په سلسله کښې چې د څومره مشکلاتو سره مخامخ شوے وم نو هغه په خپل ځائے، ولې اوس پرې د احمد دا کتاب هم زما په غاړه شو. دا عجيبه خبره ده چې د باچا خان په هنګامه خېز تحريک کښې دا لوئے شوے ولي خان او د برېنډو سينو او شلېدلو ګرېوانونو په لښکرو کښې روان د پېرنګي د څپېړو، بېټونو او سنګينونو لاندې رېزه رېزه ولي خان چې د جېلونو او وهلو ټکولو نه لا فارغ شوے نۀ دے چې د دغو لښکرو د مشرۍ او رهبرۍ پګړۍ ور په سر شوې ده. د ملک د اکثرو قوم پرستو او اکثرو ترقي پسندو د جمهوري پارټۍ بېرغ ئې وچت کړے دے او د حقيقي جمهوريت نعره ئې پورته کړې ده، د ون يونټ د خاتمې د صوبائي خودمختارۍ او پارليماني جمهوريت دننه ئې د يو سر او يو ووټ دپاره په ټول ملک کښې جمهوري قوتونه منظم کړل او د جمهوريت د يو علامت په توګه ئې يوه پېژندګلو پېدا کړه او ډېرې آئينې او جمهوري ګټې ئې دې ملک او خلقو ته راوړې. هغۀ ته د شاباسي په ځائے د حېدر اباد د سازش کېس تحفه ورکړې شوه. په داسې حال کښې چې هغه سره د خپلو ملګرو د مرګ او ژوند په بريد ولاړ په زنځيرونو کښې پېشۍ له راځي. ماته د هغۀ د هغه وخت يو تصوير يادېږي چې هغه سره د خپلو نرانو ملګرو په چارسدوالو جامو کښې او پنجه دارو څپلو کښې زنځير په لاس هسکه غړۍ د ملګرو نه مخکښې روان دے او دوېم راته د هغه وخت يو يادګار شعر ياد دے چې:

تۀ حېدراباد وې او کۀ نۀ وې اوس خو شوې کنه
چا کښې چې زما زمرې اوسېږي نو يادېږې هم

په داسې حال کښې هغه د پښتنو د جدوجهد په حواله د دغې تاريخي مرحلې د راټولولو اراده هم په زړۀ کښې لري او د هغو الزامونو جواب هم ليکي کوم چې پرې د هغه وخت سرکار لګولي دي، ځکه چې

کوم کتاب چې هغهٔ د ایوب خان د زمانې په جېل کښې څهٔ نه څهٔ لیکلے ؤ نو د هغې دپاره ورته باچا خان بیا بیا وائي چې د دې سیاسي منډو ترړو نه دغه کتاب ډېر زیات ضروري دے او ولي خان ورته وائي چې ستا افغانستان ته د راتلو نه پس چې ماته هلته د کومو قوتونو د راټولولو ذمه دارۍ راکړې شوې دي یا خو تهٔ حکم وکړه چې زهٔ د دغو ذمه د ارو نه یو خوا ته شم او یا بیا داسې دعا وکړه چې د پاکستان حکمرانان مهربانه شي ما ونیسي او زهٔ دغه کتاب پوره کړم. اوس د حېدر اباد سازش کېس ولي خان ته د باچا خان هغه دعا ښکاري، کومه چې قبوله شوې وي او هغه د دې مرګ او ژوند د مقدمې نه بې نیازه د خپل هغه کتاب د پوره کولو غم اخستے دے، په کوم چې ورته باچا خان وائي چې دا د دې سیاسي منډو ترړو نه زیات ضروري دے. ولي خان د دغې کتاب د غم سره احمد کاکا څلور کاله د ځان سره دېره کوي او هغهٔ ته وائي چې د باچا خان کتاب د هغهٔ یادداشتونه دي.

زما کتاب د بین الاقوامي سیاستونو، رقابتونو او سازشونو نه جوړ اګر چې د خدائي خدمتګارو د جدوجهد مقدسه برخه ده خو هغه ورک خدائي خدمتګار اوس ستا کار دے چې تهٔ راټول کړې او د ورکېدو نه ئې بچ کړې. د احمد کاکا هغه دوه ټوکه کتاب چې په ۱۹۶۲ صفحو مشتمل دے هغه ناشر په دې نهٔ چاپ کوي چې وړومبے ټوک چا وانهٔ خستو نو دوېم ئې نهٔ شو چاپ کولے. په څلور کاله کښې راټول کړي دغه د خدائي خدمتګارو معلومات چې ولي خان پرې سریزې لیکلې دي او پکښې لیکي چې "د باچاخان کتاب زما ژوند او جدوجهد موجود دے، زما کتاب "باچا خان او خدائي خدمتګاري" دربم څهٔ چې څلورم ټوک به هم قام ته پېش کړے شي ولې زما په نزد ماته د دې ټولو نه د احمد کتاب ډېر اهم او ضروري ښکاري"

ولي خان ته د احمد کاکا کتاب ولې اهم او ضروري ښکاري، آیا پښتنو په دې اهم سوال چرته غور او فکر کړے دے؟ د دې وضاحت ولي خان داسې کوي د وړومبي ټوک په اخري صفحو کښې وائي په کومو حالاتو او بې سروسامانۍ کښې چې باچا خان دې قامي جهاد ته ملا وتړله د هغې اندازه لګول اوس مشکل دي. ولې چې څوک په جارو کړې مېدان راشي نو د هغو خزلو اندازه نهٔ شي لګولے کومې چې مخکښې جارو شوې وي. د باچا خان سره چې کومو ننګیالو زلمو او پېغلو څومره مرسته کړې ده او څومره میاندو د زړونو غوښې په خپله مرضۍ د قرآن شریفونو د لاندې تېرې کړې، د قام په جنګ لېږلې دي، څومره ناویانو خپل ناوېتوب د قام د سره قربان کړے دے او څومره خوېندې د خپلو وروڼو سره څنګ په څنګ دې قامي جنګ کښې شاملې دي، څومره شاه زلمي د پېرنګي د ګولو خوراک شو او څومره ځوانۍ د جېل د تورو تمبو دننه ودوړېدې، دا یو ډېر اوږد او غم لړلے داستان دے. د باچا خان او د هغهٔ د ملګرو دا خواهش ؤ چې د دې داسې شاه زلمو دا حالات دې راټول کړے شي، ولې چې دا د پښتنو د تاریخ یو ځلنده باب دے. باید چې قام او راتلونکي نسلونه د دې ننګیالي قام د دې بې کچه نرتوب او مېړانې نه خبر شي او دا د هغوي دپاره په دې توره تیارهٔ کښې یو بل مشال وګرځي.

ولي خان مخکښې لیکي چې د دې غرض دپاره ماته چې څومره یاد دي درې کمېټۍ جوړې شوې چې هغه دې د پښتونخوا په ګوټ ګوټ او کلي په کلي

وګرځي او د دغو ننګيالو او شاه زلمو او پېغلو دا واقعات دې راجمع کړي خو د پښتنو د همه بدبختيو او نيمګړتياګانو نه يوه دا هم ده چې دوي د ليکلو اړخ ته ډېره کمه توجه ورکوي.

بيا چې بابا کله د خپل ژوند حالات راټولول شروع کړل نو زمونږ دا خيال ؤ چې دا کمے به د څۀ حده پورې پوره کړي، ولې هغه خو بابا صرف د خپل ژوند حالات راټول کړي وو، ما چې کوم کتاب په خپله ليکلے دے نو هغه هم اګر چې د دې خدائي خدمتګارۍ د تحريک تاريخ دے خو هغه د دې منطقې د بين الاقوامي قوتونو د پاليسو او سازشونو نه ډک دے نو مونږ محسوسه کړه چې د دې نوم ورکو شاه زلمو نوم به ورک پاتې شي. مخکښې ليکي چې نو ما دغه کار احمد ته حواله کړو او چې هغه دغه کتاب پوره کړو نو خپل ژوند ئې هم پوره کړو.



ولي خان په خپله ګواهي ورکوي چې د ازاد اسلاميه سکول نه ئې زمونږ سره سفر شروع کړے ؤ، انقلابي دور کښې ئې يو انقلابي کردار ادا کړو او لکه د زرګونو شاه زلمو په دې فخر کولے شي چې د سامراج د نوابادياتي قوتونو خلاف ئې په خپله غريبۍ کښې قرباني ورکړه، خپل بچي ئې خوار کړل چې د پښتنو بچو له د عزت او ازادۍ ژوند وګټي.

آيا ننو پښتنو کۀ د احمد کاکا دغه دوه ټوکه په ثلور کاله کښې راغونډ کړے د پښتنو د تحريک تاريخ جوړونکي مېړني نۀ دي لوستي نو د ولي خان دغه سريزې ئې هم د نظر نه نۀ دي تېرې کړې؟ څو مياشتې مخکښې ماته يو کاکا پټ په څادر کښې دوه کتابونه راوړل، وې زۀ د احمد کاکا زوے يم، په کور کښې مې د بې روزګاره بچو نه علاوه هيڅ نۀ وو، ما وې کۀ دا.......زما ګزارش د پښتنو د صوبې د وزيراعلي په مخکښې دا دے چې د احمد کاکا د قربان کړو بې روزګاره بچو دپاره کۀ چرته هم دا سې روزګا ورکړے شي چې د هغوي عزت نفس هم بحال کړے شي او د دې سره سره مې دوېم ګزارش دا دے چې کۀ ممکنه وي نو چې د دغې کتاب په حقله د ناشر سره خبره وکړې شي، دغه کتاب ترې ازاد کړے شي او حقوق ئې د احمد کاکا بچو ته وسپارلے شي، نۀ يوائې وسپارلے شي بلکې د ډېر اعزاز سره واپس چاپ کړے شي.

دريم عرض به زۀ پښتنو ته دا وکړم چې هغه دې دا کتاب نۀ يوائې د دغسې مرحلې ته د رسېدو نه پس واخلي، ودې ئې لولي او د خپلو لائبرېرو نيمګړتيا دې پرې پوره کړي چې مونږ نۀ يوائې په راتلونکو وختونو کښې د ناشر هغه انکار د ولي خان د سريزې دننه انډرلائن کړے شو بلکې د دغسې حساسو نرانو ليکونکو د ذهنونو سرچينې هم تاندې وساتلې شو.

کۀ دومره وشي نو هم فرض به پوره شي اشنا
چې د ارمان په مزار اوښکې بلول شي اسان